# د پیغمبر اکرم(ص) نښو نښانو سره توسل

Download from:aghalibrary.com

تالیف: علامه سید مرتضي عسکري

د مهربان اوو بخښونکي خداي په نامه

بسم الله الرحمن الرحیم.

وَ اذْ قَالَ عِیسی ابْنَ مَرْیَمَ یا بَنی اِسْرائیلَ اِنیّ رَسُولُ اللّهَ اِلَیکُم مُصَدّقاً لِما بَینَ یَدَیّ مِنَ التّوْراةِ وَ مُبَشّراً بِرسولِ یاتی مِنْ بَعدِی اِسمُهُ اَحْمَدُ.

او (یاد کړئ) هغه وخت چې د مریم زوي عیسی وویل: اې بني اسرائیلو! زهٔ تاسو ته د خداي استازے یم، له ځانه د وړاندیني کتاب، تورات تصدیق کوونکې، او د هغه استازې زیرې ورکوونکې چې له ما وروسته راځي او نوم یې احمد دے. (صف/۶)

اِنّ اللّه و مَلا ئکتَهُ یُصَلّونَ علی النّبِیّ یا ایّها الذِیْنَ اٰمَنوا صلّو علَیهِ وَ سَلِّموا تَسلِیماً.

خداي او دهغه فرښتې پر پیغمبر اکرم(ص) درود استوي، اې ایماندارو! پر هغه درود واستوئ او سلام ووایئ او تسلیم ووایئ. (احزاب/ **۵۶**)

# مطرح شوي موضوګاني

الف: د پیغمبر اکرم(ص) د اثارو تبرک ګڼل

۱. د پیغمبر اکرم(ص) د خولې مبارکې د اوبو تبرک (مبارکوالے)

۲. د پیغمبر اکرم(ص) د وضو تبرک

۳. د پیغمبر اکرم(ص) د ویښتو تبرک

٤. د پیغمبر اکرم(ص) د جامو تبرک

۵. د پیغمبر اکرم(ص) د غشي تبرک

٦. د پیغمبر اکرم(ص) د لاس د ځاي تبرک

ب: د خداي په نږد د پیغمبر اکرم(ص) وسیله ګرځول او له هغه مبارک سره توسل

۱. له پنځونه وړاندې له پیغمبر اکرم(ص) سره توسل

۲. په ژوندانه کښې له پیغمبر اکرم(ص) سره توسل

۳. له رحلته وروسته له پیغمبر اکرم(ص) سره توسل

ج: د پیغمبر اکرم(ص) له قبر سره توسل

د. د پیغمبر اکرم(ص) له ترۀ، عباس سره توسل

## هـ: د قبر د فشار د کمولو لپاره د پیغمبر اکرم(ص) له جامو سره توسل

له پیغمبر اکرم(ص) سره توسل او په ژوندانه او مړینې کښې د هغه د اثارو تبرک

ځینې مسلمانان د پیغمبرانو د صفتونو په بحث کښې وايي:

"د پیغمبرانو د نښو نښانو تبرک او د هغوي د قبر عبادتځاي ګرځول شرک دے د هغوي پر قبرونو ودانۍ جوړول او بیارغاونه یې د شرک تر حده ده، د هغوي او د ولیانو د زوکړې د درناوي غونډې جوړول ګناه او حرام او بدعت دے. او لنډه دا چې د غیر خدا په وسیله له خداي سره تول د شرک په حد کښې دے او د پیغمبر اکرم(ص) له رحلته وروسته دهغه مبارک وسیله ګرځول د اسلامي شریعت خلاف کار دے"

د دې ډلې مخالفان په ځواب کښې داسې استدلال کوي چې:

الف: د پیغمبر اکرم(ص) د اثارو تبرک ګرځول:

د حديثونو په درستو کتابونو کښې په پرله پسې روايتونو سره راغلي دي چې د پيغمبر اکرم(ص) اصحاب د هغه مبارک په ژوندانه کښې پخپله د هغه مبارک په غوښتنې او مباشرت د هغه اثار تبرک ګرځول، او د هغه مبارک له رحلته وروسته يې هم دې رودې ته دوام ورکړ، د هغوي ځينې دليلونه په دې ډول دي:

د پيغمبر اکرم(ص) د خولې اوبو (توکاڼو) تبرک ګرځول په صحيح بخاري کښې له سهل بني سعد روايت کوي چې پيغمبر اکرم(ص) په خيبر غزا کښې وفرمايل: "سبا دا بيرغ هغه چا ته په لاس کښې ورکوم چې خداي تعالى د هغه په لاس خيبر پرانيزي، هغه د خداي او د هغه د پيغمبر مينه وال دے او خداي او رسول د هغه مينه وال دي.[1]

۱. صحيح بخاري "کتاب المغازي" باب غزوه خيبر، ۳ټوک ۳۵مخ، کتاب الجهاد والسير، ۲ټوک ۱۰۹مخ، باب ۱۰۲ او باب "ما قيل في لواء النبي" ۲ ټوک ۱۱۱مخ، باب "ضل من اسلم

راوي وايي خلكو هغه شپه په ډيره سختۍ سره تيره كړه څو وپوهيږي بيرغ به په هغوي كښې چا ته وركړل شي، سهار وختي ټول د پيغمبر(ص) خدمت ته راغلل، او هر يو هيله من ؤ چې بيرغ هغه ته وركول كيږي، چې پيغمبر اكرم(ص) وفرمايل: على چيرته دے؟ وويل شول: يا رسول الله د هغه ستركې خوږ يږي. پيغمبر اكرم(ص) هغه راؤباله څو حاضر شو، او دواړو ستركو ته يې د خولې په اوبو (توكاڼو) شفا وبخښله، په دې ډول چې ګوندې هډو خوږ يې نه درلود....تر پاي حديث.[1]

على يديه رجل" ۲ټوک ۱۱۵مخ، كتاب "فضائل اصحاب النبي" باب "مناقب على بن ابي طالب" ۲ټوک ۱۹۹مخ، صحيح مسلم كتاب"فضائل الصحابه" باب "من فضائل على بن ابي طالب" حديث ۳۲ او ۳۴، باب "غزوه ذى فرد و غيرها" حديث ۱۳۲، سنن ترمذي كتاب "المناقب" باب مناقب على ابن ابي طالب ۱۲ټوک ۱۷۲مخ.

۱ . صحيح بخاري ، باب "دعا النبي الى الاسلام" دوهم ټوک ۱۰۷مخ.

دا روایت په صحیح مسلم کښې د "سلمة بن اکوع" له قوله داسې دے:
وايي علي ته راغلم او هغه چې د سترګو په درد اخته ؤ له ځان سره مې کړ څو د خداي رسول ته مې راوسته، هغه مبارک د خولې په اوبو د هغه سترګو ته شفا وبخښله او بیرغ يې ورته په لاس کښې ورکړ.[۱]

## د خداي د رسول د وضو تبرک ګرځول

په صحیح بخاري کښې له انس بن مالک څخه روایت راغلے چې ويې ويل: د مازیګر د لمانځه وخت راورسیده او خلک د وضو لپاره د اوبو په پلټنې بوخت شول، خو اوبه يې پيدا نه کړې، پیغمبر اکرم(ص) د وضو (چاردام) د لوخي سره راورسیدۀ او خپل لاس يې پکښې کیښودۀ او خلکو ته يې وفرمایل: اودس (وضو) وکړئ، ناڅاپه مو ولیدل اوبۀ

۱ . صحیح مسلم، کتاب الجهاد والسیر، ۱۳۲ حدیث.

د هغه مبارک د ګوتو له سرونو د چینې په څېر ختېږې او تر وروستي سړي پورې ټولو اودس وکړ.[۱]

او په یو بل روایت کښې ، جابر بن عبدالله وایي:

زهٔ له پیغمبر اکرم(ص) سره وم چې د مازیګر د لمانځه وخت راورسیدهٔ او مونږ ډېرې لږې اوبه درلودې، هغه یې په یوهٔ لوخي کښې واچولې او پیغمبر اکرم(ص) ته یې راوړې، هغه مبارک خپل لاس په هغه لوخي کښې کیښودهٔ او خپلې ګوتې یې خلاصې کړې او ویې فرمایل: وضو کوونکي دې بېړه وکړي چې خداي پکښې برکت زیات کړي، ناڅاپه مې ولیدل، اوبه د هغه مبارک د ګوتو له منځه ختېږي، تر هغه وخته چې خلکو وضو وکړ او اوبه یې هم وڅښلې او دې معجزې پر ما دومره اغیز وکړ چې بیا مې هیڅکله شک ونکړ او پوه شم چې دا عین برکت دے، جابر ته وویل شو: تاسو په هغه ورځ څومره کسان وئ؟ ویې ویل: یو زر

---

۱. صحیح بخاري کتاب الوضو باب "التماس وضو اذا کانت الصلاة" لوموی ټوک ۲۱مخ.

څلور سوه تنه. او په بل روايت کښې راغلي دي چې پينځه سوه تنه.[۱]

## د پيغمبر اکرم(ص) د ويښتو تبرک ګرځول

مسلم په خپل صحيح کښې روايت کوي چې: پيغمبر اکرم(ص) منى ته راغے او له رمي جمرات او قربانۍ کولو وروسته يې د خپل سر ويښتۀ وخريل او هغه يې خلکو ته ورکړل.
او په بل روايت کښې وايي: هغه مبارک سر خريونکے راوغوښته او د ويښتو له خريلو وروسته يې هغه ابا

۱. صحيح بخاري ، "کتاب الاشربه" باب شرب البرکة والماء المبارک **۳**ټوک **۲۱۹**مخ، سنن نسايي، کتاب الطهارة، باب "الوضوء من الاناء" لومړى ټوک **۲۵**مخ، مسند احمد لومړى ټوک **۴۰۲**مخ، سنن رادمي د عبدالله بن عمر له قوله، باب "ما اکرم الله النبي من تفجر الماء من بين اضابعه" لومړى ټوک **۱۵**مخ.

**طلحه ته ورکړل، راوي وايي: هغه هم ویښته په خلکو وویشل.**[۱]

او همدغه راز له انس بن مالک څخه روایت کوي چې ویې ویل:

**پیغمبر اکرم(ص) مې ولیدهٔ چې سر یې خریل او اصحاب ترې ګېرچاپېر ولاړ وو، چې هر یو ویښتهٔ ولوېږي، هر یو یې په لاس واخلي.**[۲]

او په اسد الغابه کښې د خالد بن ولید د حالاتو په تشریح کښې وايي:

**خالد بن ولید چې له ایرانیانو او رومیانو سره یې په جنګ کښې ځانګړے رول درلودهٔ، د دمشق د سوبې**

۱. صحیح مسلم، کتاب الحج، باب "بیان ان السنة یوم النحران یرمی ثم ینحر ثم یحلق" حدیث ۳۲۳ او ۳۲۲، سنن ابو داود، کتاب المناسک، باب "الحلق والتقصیر" حدیث ۱۹۸۱. طبقات ابن سعد، لومړی ټوک ۱۳۵مخ. مسند احمد ۳ټوک ۱۱۱، ۱۳۷، ۱۴۲، ۲۰۸، ۲۱۴، ۲۳۹، ۲۵۶ او ۲۸۷ مخونه او څلورم ټوک ۴۲مخ، مغازي واقدي، ۴۲۹مخ.

۲. صحیح مسلم، کتاب الفضائل "باب قرب النبي من الناس و تبرکهم به" ۷۴حدیث، ۱۸۱۲مخ.

په وخت په هغې خولۍ کښې، چې ورسره جنګیدۀ به، د پیغمبر اکرم(ص) یو ویښتۀ کیښودلې ؤ چې د هغه په برکت به یې سویه او برے موندۀ او تل بریالے و.
همدغه راز د هغه د ژوند د حالاتو په هکله په "اصابه" او "مستدرک حاکم" کښې وایې: خالد بن ولید د یرموک په جګړې کښې خپله خولۍ ورکه کړه، او حکم یې وکړ چې هغه ولټوئ اول یې پیدا نه کړای شوه خو بیا یې وپلټله او ویې موندله، او ویې لیدله چې هغه خولۍ زړه ده، خالد وویل: د خدای رسول، یوۀ کال عمره تر سره کړه او سر یې وخریل، خلکو د هغه مبارک ویښته راټول کړل او زۀ تر هغوي د تندي ویښتو په اخستلو کښې مخکښې شوم او هغه مې دغه خولۍ کښې کیښودل او اوس په هرې یوې جګړې کښې چې دا خولۍ راسره وي برے مې په برخه کیږي.[1]

۱. مستدرک حاکم، کتاب معرفة الصحابه، باب "مناقب خالد بن ولید" دریم ټوک ۲۹۹مخ، په لنډه توګه دغه روایت په منتخب کنز العمال کښې د مسند احمد په لمن لیک کښې د

او په صحیح بخاري کښې روایت کوي چې : د پیغمبر اکرم(ص) څو ویښتهٔ د هغه مباک له ماندینې "ام سلمه" سره وو او کله به چې د چا سترګې خوږیدې، د اوبو لوخې به یې هغې ته لیږل څو هغه ویښتهٔ پکښې ډوب کړي او ناروغ شفا وموموي.[1]

عبیده وايي، که چېرې د پیغمبر اکرم(ص) یو ویښتهٔ راسره وي، تر درستې دنیا او پکښې هر څه چې دي راباندې ګران دي.[2]

## د پیغمبر اکرم(ص) د جامو تبرک ګرځول

د ابوبکر د لور اسماء خدمتګار عبدالله وايي: زما، میرمنې اسماء په شنو نښنو سره اوږده جبه او جامه

پینځم ټوک په ۱۷۸ مخ او د تاریخ ابن کثیر د اووم ټوک په ۱۱۳ مخ هم راغلي دي.

۱. صحیح بخاري، کتاب اللباس، باب "ما یذکر فی الشیب" څلورم ټوک ۲۷ مخ چې مونږ په لنډه شان ذکر کړ.

۲. طبقات ابن سعد، شپږم ټوک ۲۳ مخ، صحیح بخاري کتاب الوضو، باب "الماء الذي یغسل به الانسان" لومړی ټوک ۳۱ مخ.

راوښودله، او ویې ویل: دا جبه پیغمبر اکرم(ص) اغوستله او مونږ هغه وینځو او ترې شفا اخلو.[۱]
او په صحیح مسلم کښې وایي: دا د پیغمبر اکرم(ص) عبا ده بیا یې یوه اوږده عبا راوکښله چې د تهیو ځایونه او څاکونه یې ریښمین او دیباج وو او ویې ویل: دا عبا له عایشې سره وه چې له دنیا لاړه او له هغې وروسته ما ته راورسیدله پیغمبر اکرم(ص) به هغه اغوندله او مونږ هغه وینځو چې په وسیله یې ناروغان ښه شي.[۲]

## د پیغمبر اکرم(ص) د غشي تبرک ګرځول

۱. مسند احمد، ۲ټوک ۳۴۸مخ، طبقات ابن سعد، لومړی ټوک ۲۲مخ، باب "ذکر لباس النبي" تاریخ الاسلام، ذهبي (السیرة النبویه) ۵۰۳مخ، السیرة النبویه والاثار المحمدیه، دوهم چاپ بیروت، دارالمعرفه ۲ټوک ۳۲۵مخ.
۲. صحیح مسلم، دریم ټوک ۱۲۱مخ، کتاب "اللباس والزینه" باب "استعمال اناء الذهب والفضة" ۲۰۲۹مخ.

بخاري د حدیبیه د سولې په باب روایت کړے دے او وایي:
د خداي رسول له خپلو سپایانو سره د حدیبیه په انتها کښې د کمو اوبو پر څاه راښکته شو خلکو د څاه خوا ته ودانګل او په بیړه یې ترې اوبه راوښکلې او لږ وروسته یې د تندې په هکله پیغمبر اکرم(ص) ته شکایت وکړ، پیغمبر اکرم(ص) یو غشے له غشنیو راوخیسته او ویې فرمایل چې غشے په څاه کښې واچوئ، نو په خداي قسم اوبه راوختېدې او ټولو وڅښلې او بیا له هغه ځایه روان شول.[۱]

د پیغمبر اکرم(ص) د لاس ځاي تبرک ګرځول

د اصابه کتاب او مسند احمد کښې د حنظله د ژوند حال په هکله یو روایت دے چې په لنډه توګه داسې دے:

۱. صحیح بخاري، کتاب الشروط، باب "الشروط فی الجهاد والمصالة مع اهل الحرب" دوهم ټوک ۸۱مخ، کتاب المغازي، باب "غزوه الحدیبیه"

**حنظله** وايي: نيکه زه د پيغمبر اکرم(ص) خدمت ته بوتلم او ويې ويل: زه لويې او کوچني زامن لرم چې دا پکښې تر ټولو کوچنې دے، د دهٔ لپاره دعا وکړه، پيغمبر اکرم(ص) د هغه پر سر لاس راکښهٔ او ويې فرمايل: خداي پاک يې نيکمري زياته کړه يا هغه نيکمرغه دے، راوي وايي: پخپلو سترګو مې وليدل چې د پړسيدلي څيرو ناروغان يا هغه ځناور به يې چې تيونه يې پړسيدلي وو، **حنظله** ته راوستل او هغه به پخپل لاس د خولې لاړې لګولې او په بسم الله سره به يې لاس پر خپل سر راکښهٔ او ويل به يې: دا د خداي د رسول د لاس ځاي دے بيا به يې پړسيدلے ځاي مسح کاوهٔ او د راوي په وينا، پړسوب به ختميدهٔ.[1]

د اصابة په عبارت کښې راغلي دي: **حنظله** به بسم الله ويله او خپل لاس به يې پر خپل سره چې د پيغمبر اکرم(ص) د لاس ځاي ؤ، کيښودهٔ او راکښهٔ به يې، او

---

۱. مسند احمد، پينځم ټوک ۲۸مخ، تشريح يې د حنظله بن حذيم بن حنيفه د ژوند حالاتو په باب په "الاصابه" کښې راغلې ده.

بیا به یې پر پړسوب راکښنۀ او هغه پړسوب به ختمیدۀ.

برکت او بختوروالے به د لمر د رڼا او د غوټیو د خوشبوۍ په څېر د پیغمبر اکرم(ص) په شاو خوا کښې خپریدۀ، په ماشومتر او لوي والي، په سفر او حضر او شپه او ورځ به هیڅکله له هغه مبارکه نه جلا کیدۀ، په هغه وخت کښې کله چې د خپلې شیدو مور( دایه)، حیلمه سعدیه په خیمه کښې ؤ او که د تجارت لپاره د شام په سفر کښې ؤ او یا د هجرت په وخت د ام معبد په خیمې کښې ؤ او یا په مدینې کښې د مشرتابه، لارښود او حکومت په وخت، او څرګنده ده هغه څه چې دلته مو ذکر کړل، یوه بیلګه ده او مونږ هیڅکله د احصایې او شمیرنې په لټه کښې نه وو ځکه چې د ټولو شمیر او ذکر د هیڅ څیړاندي په وس کښې نه دے او هغه څه چې بیان شول د سلیم زړۀ او عقلمنو او اوریونکیو غوږونو لپاره بسنه کوي.

په ورپسې برخه کښې د شفاعت او د متعال خداي په درګاي کښې د پیغمبر اکرم(ص) د وسیله ګرځولو موضوع جاجوو او بیا، د خداي په مرسته د پیغمبر اکرم(ص) د امتیازونو او ځانګړنو په باب د اختلاف

او له نورو خلکو سره دهغه مبارک د توپیر په هکله په لنډه توګه لیکنه کوو.

## له پیغمبر اکرم(ص) سره توسل

له رسول الله (ص) سره د توسل په رواوالي او جائز والي او په ګردو دورانونو کښې د متعال خداي درګاه ته د هغه مبارک په وسیله ګرځولو، اعتقاد لرونکي وایي:

دغه ډول توسل د پیغمبر اکرم(ص) له خلقته وړاندې، په ژوندانۀ او د هغه مبارک له رحلته وروسته د خداي په رضا سره تر سره شوے دے او هماغه راز د قیامت تر ورځې پورې هم، لاندنیو دلیلونو ته په پام سره دوام لري:

## لومړی: له پیدا ایښته وړاندې د خدای له رسول سره توسل

د حاکم نیشاپوري په شمول چې په خپل مستدرک کتاب کښې یې د عمر بن خطاب له قوله روایت کړے، د راویانو یوه ډله روایت کوي، چې ادم (ع) کله چې تیروتۀ، عرض یې وکړ: پروردګارا! له تا غواړم چې د محمد او ال محمد په حق، ما وبخښه، سبحانه و تعالی وفرمایل:

اې آدمه! تا محمد څنګه وپیژاندۀ، په داسې حال کښې چې لا تراوسه مې نه دې پیداکړے؟ عرض یې وکړ: پروردګاره! کله دې چې زۀ په خپل قدرت وپنځولم او خپل روح دې په ما کښې پو کړ، سر مې چې پورته کړ ومې لیدل، د عرش پر ستنو لیکل شوي: لا الهَ الاّ الله مُحمّد الرسولُ الله، نو پوه شوم چې ته د خپل تر ټولو محبوب خلقت له نومه پرته د بل چا نوم د خپل نوم تر څنګه نه کرځوے.

خداي وفرمايل: رينبتيا دې ووېل اې ادمه! هغه زما تر ټولو محبوب بنده دے او ما د هغه په خاطر وبوله چې ته مې وبخښلې او که چېرې محمد نه وې ته مې نه پيدا کولې.

دا حديث طبراني هم په خپل کتاب کښې ليکلے او زياته کړې يې ده او هغه ستا د نسل تر ټولو وروستے پيغمبر دے.[1]

او د دغه ايت په تفسير کښې:

وَ لَمّا جَاءَ هُمْ كتابٌ مِنْ عِنْدِ اللّٰه مُصَدِقاً لما مَعَهُمْ وَ كَانوا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الّذِيْنَ كَفَروا فلَمّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفوا كَفَروا بِهِ فَلَعْنَةُ اللّٰه على الْكافِرِيْن. (بقرة/۸۹)

او کله چې د خداې له لورې د هغه وخوا ته کتاب راغے چې د هغوي د کتاب تصديق کوونکې دے (او هغوي پخپله تر دې وړاندې، د هغه د راوړونکي په نوم) پر

---

۱. مستدرک حاکم، دوهم ټوک ۲۱۵مخ، مجمع الزوائد، اتم ټوک ۲۵۳مخ، تحقيق النضرة، مراغي (ت ۸۱۲ هـ) ۱۱۳، ۱۱۴مخونه، له طبراني څخه نقل شوے.

کافرانو برے موندۀ، اوس چې هماغه د هغوي پيژندونکې يې د هغوي لورې ته راغلے نو ترې انکار يې وکړ نو لعنت وي د خداې پر کافرانو.
محدثانو او مفسرانو د دغه ايت په تفسير کښې روايت کړے دے چې: د مدينې او خيبر يهوديان له بعثت څخه وړاندې کله چې د "اوس" او "خزرج" او داسې نورو قبيلو له عربو او مشرکو ګاونډيو سره جنګيدل د خداي د رسول په نوم چې په تورات کښې يې موندلے و، پر هغوي برے موندۀ او بريالي کيدل به، او د کافرانو پر خلاف به يې دعا کوله او ويل به يې: پروردګاره! د اُمې پيغمبر په حق له تا غواړو چې مونږ پر هغوي بريالي کړه، يا به يې ويل: اې پروردګاره! د خپل پيغمبر په نوم، مونږ پر هغوي بريالي کړه.[1]

---

۱ . له دغو روايتونو څرګنديږي چې هغوي د دغه ډول دعاګانو په وسيله، خداي پاک ته دعا کوله، داسې دعاګانې چې د خداې له رسول سره په توسل کښې شامليږي.

خو کله چې د خداي کتاب قران مجید او د تورات او انجیل تصدیق کوونکے د هغه چا په وسیله چې هغه یې له کوم شکه پرته په ښه توګه پیژاندهٔ یعنې محمد، د هغو په لور راغے، نو ترې منکر شول، ځکه چې هغه بني اسرائیل نه ؤ.[۱]

## دوهم: په ژوندانه کښې له پیغمبر اکرم(ص) سره توسل

احند بن حنبل، ترمذي، ابن ماجه او بیهقي له عثمان بن حنیفه روایت کوي چې: یو نابینا سړے د پیغمبر

۱ . دا روایتونه د مضمون له نظره متواتر دي او په دغو کتابونو کښې راغلي دي، دلائل النبویه، بیهقي ۳۴۳ او ۳۴۵مخونه، تفسیر طبري د ایت په تفسیر کښې، د طبري تفسیر په لمن لیک کښې د نیشاپوري تفسیر، لومړۍ ټوک ۳۳۳مخ، مستدرک حاکم، ۴ټوک ۲۲۳مخ، د سیوطي تفسیر د ابو نعیم د دلائل النبوة په نقل، تفسیر محمد بن عبد حمید، تفسیر عبد الرحمان بن حاتم ادریس رازي، تفسیر محمد بن ابراهیم بن المنذر نیشاپوري (ت، ۳۱۸ هـ).

اکرم(ص) خدمت ته راغے او عرض يې وکړ: له خدايه وغواړه چې ما ښه کړي،

پيغمبر اکرم(ص) ورته وفرمايل: که چيرې غواړے دعا درته کوم، خو که صبر وکړې نو ستا پلاره لا ښه ده. عرض يې وکړ: دعا وکړه، پيغمبر اکرم(ص) هغه ته وفرمايل: وضو (اودس) وکړه، ښه وضو، او دا دعا ولوله:

اَللهُمّ اِنّى اَسْأَلُكَ وَ اَتَوَجَهُ إلَيكَ بِنَبِيكَ مُحَمّدٍ نَبِى الرّحْمَة، يَا مُحَمّدُ إنّى تَوَجّهتُ بِكَ اِلى رَبّى فى حاجَتِى لِتَقْضِى لى، اَللهُمّ شَفِعْهُ فِيّ.

اې پروردګاره زۀ ستا د پيغمبر محمد، د رحمت د پيغمبر په سيله ستا خدا ته راځم او له تا غواړم، اې محمدۀ! زۀ له خدايه د خپل حاجت د دعا لپاره تا ته راغلم او تۀ مې وسيله وګرځولے څو دعا مې قبوله شي، خدايه! هغه زما وسيله او شفيع وګرځوه.[1]

---

۱ . مسند احمد، ۴ټوک ۱۳۸مخ، سنن ترمذي، کتاب الدعوات، ۱۳ټوک ۸۰ او ۸۱مخ، سنن ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة والسنة فيها، باب "ماجاء فى الصلاة الحاجة" حديث

دغه دوايت بيهقي او ترمذي صحيح ګڼلے دے.

## دريم: له رحلته وروسته له پيغمبر اکرم(ص) سره توسل

طبراني په معجم الکبير کښې له عثمان بن حنيف څخه روايت کوي چې: يو سړي د خپل حاجت لپاره عثمان بن عفان ته تګ راتګ کاوه، خو عثمان هغه او د هغه غوښتنې ته پام ونه کړ، هغه سړي ابن حنيف وليدۀ او د روان حال په هکله يې ګيله وکړه، عثمان بن حنيف هغه ته وويل: د وضو ځاې ته ورشه او اودس وکړه، بيا جومات ته راشه او دوه رکعته لمونځ وکړه او ووايه:

۱۳۸۵ ،۴۴۱مخ، ابن اثير په خپل سند د عثمان بن خنيف د حال په شرح کښې په اسد الغابة، بيهقي د تحقيق النضرة کتاب خاوند د نقل پر اساس، تحقيق النضرة ۱۱۴مخ، مونږ ځکه د حنبليانو د امام احمد بن حنبل عبارت ته مخه کړې چې د ابن تيميه او محمد بن عبدالوهاب پيروان چې د شفاعت انکار کوي د احمد بن حنبل پيروان دي.

"اَللهُمّ اِنّی اَسْأَلُكَ وَ اَتَوَجَهُ إلَیكَ بِنَبِیِنا مُحَمّد، نَبِیّ الرّحْمة یَا مُحَمّدُ إنّی اتَوَجّهُ بِكَ اِلی رَبّی لِتَقْضِی حاجَتِی" و تَذکُر حاجَتكْ.

"اې پروردګاره! زهٔ د خپل پیغمبر محمد، د رحمت پیغمبر په وسیله تا ته مخه کوم او له تا غواړم، اې محمد! زهٔ د خداې لورې ته مخه کولو لپاره تا ته راغلم او تهٔ مې وسیله وګرځولې څو زما حاجت پوره شي" او بیا د خپل حاجت یادونه وکړه.

هغه سړے لاړ او څه چې یې ورته ویلي وې ترسره یې کړل، بیا د عثمان بن عفان د کور دروازې ته راغے چې ناڅاپه د کور د ورهٔ ساتونکے د هغه خوا ته راغے له لاسه یې ونیوهٔ او د عثمان غونډې ته یې بوتلو، هغه هم هغه تر خپل څنګه کښېناوهٔ او ویې ویل: ستا غوښتنه څه ده؟ هغه خپل حاجت بیان کړ او هغه ورته اړتیا پوره کړه، بیا یې ورته وویل: تا تر دې وخته

پوري د خپلې اړتیا یادونه نه وه کړې او ویې ویل: بل که هر حاجت او اړتیا لرې، بیا یې کړه.[۱]

## ج: د پیغمبر اکرم(ص) له قبر سره توسل

په سنن دارمي او د سمهوري په وفاء الوفاء کښې له اوس بن عبدالله څخه روایت شوی چې ویې ویل:
د مدینې خلک له سختې کاختې سره مخامخ شول او عایشې ته یې ګیله وکړه، عایشې وویل: د پیغمبر اکرم(ص) قبر ته ورشئ او له هغه ځایه د اسمان لورې ته لاره پیدا کړئ څو د قبر او اسمان تر منځ کوم چت نه وي، راوي وایي: داسې یې وکړل، له هغه وروسته، داسې باران ووریدۀ چې بوټي زرغون شول او اوښان څاربۀ شول.[۲]

---

۱ . تحقیق النضرة، ۱۴ او ۱۵مخونه، د طبراني له معجم الکبیر څخه نقل شوی دی.
۲. سنن دارمی، لومړی ټوک ۴۳ او ۳۳مخونه، وفاء الوفاء دوهم ټوک ۵۴۹مخ.

## د: د پیغمبر اکرم(ص) له ترۀ، عباس سره توسل

په صحیح بخاري کښې راغلي دي چې:

کله به چې کاختي راتله، عمر بن خطاب به د عبدالمطلب زوے عباس شفیع او وسیله ګرځوۀ او ویل به یې:

اللّهُمّ انّا كُنّا نَتَوَسَلُ إليكَ بِنَبِيّنا فَتَسْقِيْنا، وَ إنّا نَتَوَسّلُ إليْك بِعَمّ نَبِيّنا فاسقنا، قال فَيَسْقون.

اې پروردګاره! مونږ وړاندې د خپل پیغمبر په توسل سره ستا وخوا ته راتلو او تا به باران راباندې واروۀ او خړوبولو به دې، او اوس د خپل پیغمبر د ترۀ په توسل سره تا ته مخه کوو، و باران ووروه او ماړۀ مو کړه، راوي وايي: بیا به باران کیدۀ او خړوبیدل به.[1]

---

۱. صحیح بخاري، کتاب الاستسقاء باب "سوال الناس الاماما لاستسقاء اذا قحطوا" کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عباس بن عبدالمطلب، دوهم ټوک ۲۰۰مخ، لومړی ټوک ۱۲۴مخ، سنن بیهقي، کتاب "صلاة الاستسقاء لمن ترجی برکة دعائه" دریم ټوک **۳۵۴**مخ.

## هـ: د قبر د فشار د کمیدا لپاره د پیغمبر(ص) له جامو سره توسل

په کنز العمال، استیعاب، اسد الغابه او اصابه کښې د فاطمه بنت اسد د حال په شرح کښې له ابن عباس څخه روایت شوے چې ویې ویل:
کله چې د امیر المؤمنین علی ابن ابي طالب مور، فاطمه بنت اسد وفات شوه، پیغمبر اکرم(ص) پرې خپل خت وغوړاوۀ او د هغې په قبر کښې د هغې تر څنګه څملاستۀ، حاضرانو په حیرانتیا سره وویل: هغه څه چې له دې مړي سره دې ترسره کړل تر اوسه پورې مو نه وو لیدلي؟ ویې فرمایل: دا د دې لپاره دي چې هیڅوک له ابي طالبه وروسته زما په نسبت تر هغې زیات نیک نه وو، ما خپل خت پرې وغوړاوۀ چې هغې ته د جنت جامې واغوندل شي او په قبر

کښېي ورسره ځملاستم چې د قبر له فشاره خوندي شي.[۱]

په طبقات ابن سعد کښې له سهل بن سعد څخه روایت کوي چې ویې ویل: یوه ښځه له یوې داسې عبا سره چې په لمنو یې بوټي شوي وو د پیغمبر اکرم(ص) خدمت ته راغله او ویې ویل: یا رسول الله! ما دا عبا پخپلو لاسونو اوبدلې (ګنډلې) او راوړې مې ده چې پر تا یې واغوندم، راوي وایي: پیغمبر اکرم(ص) چې ورته اړتیا درلوده، قبوله یې کړه او وایې غوندله، او یوه ورځ چې ورسره زمونږ مجلس ته راغلې ؤ، د فلاني زوي فلاني وویل: یا رسول الله! دا عبا څومره ښه ده! پر ما یې واغونده، ویې فرمایل، ښه ده، نو تر هغه

۱. کنزل العمال، ۱۲ټوک ۱۴۷مخ، ۳۴۴۲۴حدیث، اصابه، اتم ټوک ۱۲۰مخ، اسد الغابة ۵ټوک ۵۱۷مخ، د اصابة په لمن لیک کښې د استیعاب څلورم ټوک ۳۲۸مخ، د مصر چاپ ۱۳۲۸ه . صفوة الفوة، دوهم ټوک ۵۴مخ، د فاطمة بنت اسد د حال په شرح کښې، ذخائر العقبی، ۵۵ او ۵۲مخونه، فصول المهمة ابن صباغ مالکي، ۳۱ او ۳۲مخونه، وفاء الوفاء، دریم ټوک ۸۹۷او ۸۹۸مخونه، او ینابیع المؤدة.

وخته چې خداي غوښتله په هغه مجلس کښې کښیناستۀ او بیا بیرته لاړ او کله چې کور ته ورسیدۀ، هغه یې ټوله کړه او هغه ته یې ولیږله، خلکو ورته وویل: ښه کار دې ونکړ، پیغمبر اکرم(ص) ورته اړتیا درلوده نو ځکه یې قبوله کړه او تۀ خو پوهیږې چې پیغمبر اکرم(ص) هیڅ یو سوالي نه ردوي، هغه دې ترې وغوښتله، هغه سړي وویل: په خداي قسم! هغه مې د اغوستلو لپاره نه ده غوښتلې، بلکې د دې لپاره مې وغوښتله څو د مرګ په ورځ مې کفن وي، سهل وایي: هغه عبا د مرګ په ورځ د هغه کفن ۆ.[1]

## والحمد لله ربّ العالمین

---

۱. طبقات ابن سعد، لومړے ټوک ۲۲۲مخ، باب ذکر لباس الرسول.